


# روژه

کال: 1402 هش

د روژې په اړه مقاله

ليکونکی: قاري نبی الله «احمد»

دنده: د تحقيق او احصائيې آمر

اړوند رياست: تقنين او پلان



لــــړ لــــيـــــک

**سريزه ........................................................................................... 1**

**روژه........................................................................................... 1**

د روژې لغوي معنی:........................................................................... 1

د روژې اصطلاحي معنی: ...................................................................... 1

د رمضان د روژې حکم: ......................................................................... 1

**د روژې ديني ګټې** ........................................................................... 2

۱ـ رفع الدرجات: ................................................................................. 2

۲ـ تکفير الخطيئات: .............................................................................. 2

۳ـ کسر الشهوات: ................................................................................ 3

۴ـ تکثير الصدقات: ............................................................................... 3

۵ـ صحة الأبدان وسلامة الأذهان: ............................................................. 3

٦ـ په تفطير الصائم سره مثل أجر الصائم: ..................................................... 3

**د روژې طبي ګټې** ........................................................................... 4

روژه او د شکرې (شوګر)ناروغي.............................................................. 4

روژه او د وزن کموالی.......................................................................... 4

روژه او جلدي مرضونه ......................................................................... 5

روژه او د وينې غوټه کيدل .................................................................... 5

**د روژې په هکله د څو نړېوالو وتلو ډاکټرانو ويناوې ..................................... 5**

**د روژې اجتماعي ګټې ......................................................................... 6**

روژه او اتحاد: ................................................................................... 7

روژه او ښه اخلاق ............................................................................... 7

د روژې خوړونکی او عذابونه يې ................................................................ 8

## سریزه

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

**الحمد للّه رب العالمین، والصلاة والسلام علی أشرف الأنبیاء والمرسلین، نبیّنا محمد وعلی آله وصحبه أجمعین.**

**أما بعد:** يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ [سورة البقرة، آیت: ۱۸۳]

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! روژه پر تاسې فرض شوې ده؛ لکه چې تر تاسې پر ړومبیو فرض شوې وه، ښايي متقیان شئ.

روژه چې د ټولو مسلمانانو یوه شریکه فریضه ده؛ دا فریضه د اسلام مقدس دین په اصولو کې په یو شان بې له کوم توپیره نیول کېږي چې د صبح صادق څخه د ماښام (تر شپې راخورېدو پورې) ټول وخت په روژه کې حسابېږي.

همدا راز د دغې میاشتې له فضیلت څخه د هر نېک عمل ثواب د نورو میاشتو په پرتله بیخي زیات دی، ځکه چې په دې میاشت کې نفل د فرضو ثواب لري او یو فرض د اویا فرضو د ثواب سره برابرېږي.

له همدې امله به صحابه کرام رضي الله تعالی عنهم د روژې میاشتې ته خوشحاله کېدل او د روژې په را رسېدلو سره به یې د الله تعالی حمد اداء کاوه او له الله تعالی څخه به یې د روژې  نیولو او نېکو اعمالو کولو د توفیق غوښتنه کوله.

نو د لا زیاتو معلوماتو لپاره مو د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت د اطلاعاتو او نشراتو ریاست په غوښتنه دا یوه وړوکې مقاله چې د روژې په اړه ده، ستاسو درانه چوپړ ته وړاندې کړه او د امکان تر حده پورې مې کوښښ کړی دی چې په روانو او ساده جملو کې یې مطالب راټول کړم، هیله ده چې د لوستونکو د ګټې وړ وګرځي.

څرنګه چې انسان له غلطۍ څخه خالي نه دی نو که کومه غلطۍ را څخه شوې وي بخښنه راته کوئ.

**ستاسو د کامیابۍ په هیله**

# روژه

## د روژې لغوي معنی:

روژې ته په عربی کې صوم وایي. د صوم اصلي معنی (ساتل) دي، الله ﷻ د مریم علیها السلام په هکله فرمایلي دي:

إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا، صوم دلته د چوپتیا په معنی ده؛ ځکه چې دا هم ځان (ساتل) دي له خبرو اترو څخه.

## د روژې اصطلاحي معنی:

روژه د شریعت په اصطلاح کې دې ته ویل کېږي چې مکلف انسان له سپېده داغه تر ماښامه د عبادت په نیت د ګېډې او شرمګاه له تقاضاوو پوره کولو څخه ځان وساتي.

## د رمضان د روژې حکم:

د رمضان د روژې فرضیت په قران، سنت او اجماع د امت سره ثابت دی.

په قرانکریم کې یې فرضیت په دې ایت سره دی: الله ﷻ فرمایلي دي:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ [سورة البقره ۱۸۳ آیة]**

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی روژه پرتاسې فرض شوې ده لکه څنګه چې فرض کړل شوې وه پر هغو کسانو چې له تاسو څخه مخکې ول، تاسې تقوا وکړئ.

په سنت کې یې ثبوت دې حدیث سره دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

**حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، قَالَ: أَخْبَرَنَا حَنْظَلَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ خَالِدٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ" [صحیح البخاری/ ش ۸]**

ژباړه: اسلام پر پنځو شیانو بنا دی: اول یې شهادت دی چې (د عبادت وړ یوازې الله ﷻ دی محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی)، لمونځ اداء کول، زکات ورکول، حج کول او د روژې په میاشت کې روژه نیول.

همدا راز یو صحرايي سړي له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې پر ما کوم عملونه لازمي دي؟ رسول الله ﷺ د روژې یادونه هم ورته وکړه.

او اجماع سره یې ثبوت په دې ډول دی چې د مسلمانانو له ډلې څخه یو چا یې هم له وجوب څخه انکار نه دی کړی.

# د روژې ديني ګټې

روژه د اسلام د ارکانو څخه درېيم رکن دی، لوی څښتن تعالی د رمضان د مبارکې مياشتې روژه نيول د ډېر سترو ګټو او ښېګڼو د تحقق لپاره پر مسلمانانو باندې فرض کړې ده.

الله ﷻ په روژه کې ګڼ شمېر ګټې او فوائد ايښي دي چې يو څو به يې دلته په لنډه توګه ذکر شي:

## ۱ـ رفع الدرجات:

د روژې په سبب الله ﷻ د مسلمان درجې اوچتوي ځکه چې روژه خپله يو نېک عمل او د الله ﷻ امر دی، نيک عمل او او د الله ﷻ امر منل د درجاتو د لوړېدو سبب ګرځي، پر دې سربېره الله ﷻ په روژه کې مسلمانانو د نورو نېکو عملونو د کولو او له ګناهونو څخه د ژغورنې توفيق ورکوي لکه يو حديث کې راځي:

**عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: (إذا جاء رمضان فُتّحت أبواب الجنة، وغُلّقت أبواب النار، وصُفّدت الشياطين) [رواه مسلم/ش ۱۰۷۹]**

ژباړه: د رمضان مياشتې په راتګ سره د جنت دروازې پرانيستل کيږي ځکه چې جنتي اعمال په دې مياشت کې زياتيږي او د دوزخ دروازې تړل کيږي ځکه چې دوزخي اعمال په دې مياشت کې کميږي او شيطانان قيد کيږي يعنې مسلمانان له شيطاني وسوسو څخه ژغورل کيږي.

کله چې دا درې امور په يو روژه دار کې راجمعه شي نو اغېزه يې دا کيږي چې نيکو اعمالو ته يې توجو زياتيږي او نيک عملونه د مسلمان د درجاتو د بلندۍ سبب ګرځي.

## ۲ـ تکفير الخطيئات:

د رمضان د روژې په سبب الله ﷻ مخکېني ټول واړه ګناهونه ښې لکه مشهور حديث دی:

**من صام رمضان ايمانا واحتسابا غفر له ما تقدم من ذنبه [صحيح البخاري / ش ۳۸]**

ژباړه: چا چې ايمان او د ثواب په اميد د رمضان روژه ونيوله مخکېني ټول ګناهونه به يې وبخښل شي.

دغه راز بل حديث کې راځي:

**«الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ، وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ، وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ، مُكَفِّرَاتٌ مَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ»**[صحيح مسلم/ش ۲۳۳]

ژباړه: يو رمضان تر بل رمضان پورې په منځ کې د کړو ګناهونو لپاره کفاره دی خو چې له کبائرو ګناهونو څخه ځان وژغورل شي.

## ۳ـ کسر الشهوات:

د روژې په سبب الله ﷻ د انسان د ګناهونو شهوت ماتوي بلکې ختموي يې او دا خبره له حديث څخه هم فهم کيږي.

**فقد قال النبي صلى الله عليه وسلم: يا معشر الشباب من استطاع منكم الباءة فليتزوج، فإنه أغض للبصر وأحصن للفرج، ومن لم يستطع فعليه بالصوم فإنه له وجاء. [متفق عليه].**

ژباړه: رسول الله ﷺ هغه چا ته چې د نکاح وس نه لري د روژې نيولو حکم کړی دی ځکه چې روژه د شهواتو لپاره قاطعه او کاسره ده.

دغه راز بل حديث کې راځي:

**إن الشيطان ليجري من ابن آدم مجرى الدم فضيقوا مجاريه بالجوع ". [صحيح البخارى/ش ۵۹۴۹]**

ژباړه: شيطان د انسان په رګونو کې د وينې په څېر ځغلي تاسو د شيطان لارې په لوږې سره تنګې کړئ.

## ۴ـ تكثير الصدقات:

د روژې يوه فائده دا هم ده چې انسان د صدقاتو ډېر والي ته هڅوي ځکه چې روژه دار کله وږی شي يا تږی شي نو د خپل کلي غرباء او فقراء به ورياد شي او زړه به يې پرې وسوځي د هغوی درد به حس او درک کړي نو صدقه به وکړي، همدا د روژې د فرضيت يوه فلسفه هم ده چې په انسان کې د ايثار جذبه پيدا کوي.

## ۵ـ صحة الأبدان وسلامة الأذهان:

د روژې په سبب الله ﷻ د انسانانو بدنونه او ذهنونه روغوي لکه يو حديث کې هم راځي رسول الله ﷺ فرمايي:

**صوموا تصحوا [الجامع الصغير للسيوطي]**

ژباړه: يعني روژې ونيسئ او صحت حاصل کړئ.

## ٦ـ په تفطير الصائم سره مثل أجر الصائم:

د روژې يوه بله ګټه دا هم ده لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمايي:

**...أو فطر صائما كان له مثل أجورهم من غير أن ينقص من أجورهم شيء[الترغيب/ش ۱۰۸۷]**

ژباړه: چې څوک بل مسلمان ته روژه ماتی ورکړي الله تعالی به د هغه د روژې په مثل ثواب ده ته ورکړي پرته له دې چې د روژه دار ثواب کې دې کمی راشي.

له دې نه اشارة داسې معلومېږي چې کوم مسلمان ۳٦ روژه دارو ته روزه ماتی ورکړي نو د ټول کال د روژې ثواب به ومومي هغه داسې چې یوه روژه په لس چنده حسابیږي لکه قرآن کریم کې الله ﷻ فرمایلي دي:

**من جاء بالحسنة فله عشر أمثالها، [سورت الانعام١٦٠ آية]**

ژباړه: څوک چې یو نیک عمل راوړي لس چنده اجر ورکوي.

او که د چا اخلاص زیات وي نو داسې هم ویلی شو چې ۳٦ روژه دارو ته روژه ماتي ورکولو سره الله تعالی د اویا کلونو د روژې ثواب ورکوي هغه داسې چې یوه روژه په ۷۰۰ حساب شي لکه حدیث کې راغې الله یوه نېکي له لس چنده تر اووه سوه چنده بدلوي او د ۳٦ روژه دارو روژه له ۲۵۲۰۰ ورځو روژو سره برابرېږي او دا چې په ۳٦۰ تقسیم شي نو د اویا کلونو روژې سره معادل کیږي دا ټول ثواب به افطاري ورکوونکي شخص ته ورکړل شي.

## د روژې طبي ګټې

طبي کارپوهان وايي، چې روژه د انساني صحت لپاره تر ټولو اسانه او کامیابه درملنه ده او انساني بدن له خطرناکو ناروغیو څخه ژغوري.

### روژه او د شکرې (شوګر)ناروغي

ډاکتران وايي، چې روژه د انسان وینه کې د شکرې (شوګر) د زیاتېدو مخنیوي کې ډېر بنسټیز رول لري.

د طب له نظره د انسان بدن کې د معدې شاته یو غده ده، چې تورې یا "پینکریاز" ورته وايي. توری د انسان د بدن د هاضمې سیستم کې مرسته کوي او انسولین کنټرول ساتي، مګر کله چې د خوراک اندازه زیاته شي، نو توری ستړی شي او خپل کار پرېږدي.

ډاکتران وايي، چې کله توری خپل کار پرېږدي، نو د انسان د هاضمې سیستم خراب شي او وینه کې شکره لوړه شي او چې توری همداسې ستړی وکارول شي، نو د وخت په تېردو له فعالیته لویږي او انسان د هاضمې او لوړې شکرې په دایمې رنځ اخته کېږي.

له همدې امله طبي کارپوهان وايي، چې روژه د تورې د ارام لپاره ښه مناسب وخت دی.

### روژه او د وزن کموالی

روژه خامخا د انسان وزن کموي، په دې شرط، چې د روژه ماتي پر مهال خوراک او څښاک سره احتیاط وشي.

د روژه ماتي پر مهال د کجورو پر خوراک ټینګار شوی؛ ځکه چې د کجورې خوږوالی بدن کې د لوږې احساس کموي او سړی ورسره تل د مړښت احساس کوي او په عین حال کې انساني بدن تقویه کوي، تر څو خپل فعالیتونه په اسانه پر مخ بوځي.

کم خوراک معده خالي ساتي او چې معده خالي وي، نو وزن په خپله کمېږي.

## روژه او جلدي مرضونه

روژې سره وینه کې د اوبو اندازه کمیږي او تر څنګ یې د اوبو نسبت په پوستکې کې هم کمیږي. دې سره د پوستکي غوړ کمېږي، د میکروبونو مقابل کې یې مقاومت زیاتېږي.

روژې سره د بدن د پوستکي حساسیت او جلدي غوړ کمېږي، نو سړی ورسره تروتازه ښکاري.

## روژه او د وینې غوټه کېدل

طبي کارپوهان وايي، چې روژه د وینې غوړ کموي او روژې سره د وینې کلسترول په طبعي شکل کمېږي او کله چې د وینې غوړ کم وي نو د وینې شریانونو کې وینه نه غوټه کیږي، د وینې غوټه کیدل د زړه او دماغي حملو لامل ګرځي.

## د روژې په هکله د څو نړېوالو وتلو ډاکټرانو ویناوې

ډاکټرډی جکټ **(Dr.D.Ject)** د روژې په هکله وايي: روژه نیول ټولې ناورغیانې له منځه وړي او ختموي ئې.

ډاکټرجوزف **(Dr. Joseph)** د روژې په هکله وايي: روژه هم ظاهري اوهم باطني ناروغیانې له منځه وړي او د پای ټکی ورته ایږدي.

پروفیسرافیشن **(Professor Afession)** وايي: روژه د معدې، ینې(ځیګر) او د زیات خوراک د کنترول لپاره ډېره ښه درملنه ده.

پروفیسرډاکټرایم۔ ډي کینیارډ **(Professor Dr. M.D Kenyard)** وايي: روژه په واقعیت کی یوه طبي معجزه **(Medical Wonder)**ده، چې هېڅوک ورځخه سترګې نشي پټولای.

پروفیسرکلارک **(Professor Klaork)** وايي: روژه زما روغتیا ده، زما ژوند دی او زما خوښي ده، چې زه ورځخه چاره نلرم.

پروفیسر سي ایس جونز **(Professor C. S Jones)**وايي: زما د مشاهداتو او څېړنو مطابق روژه نیول د یوه انسان لپاره اړینه او حیاتي ده، لږ تر لږه باید هر انسان په هره میاشت کې روژه ونیسي، که هره میاشت نه وي نو باید په دوو میاشتو

کې دي ونيسي، د يوې ورځې څخه تر درې ورځو پورې، زما د تجربو په اساس روژه نيول د هر انسان يو فطري او طبعي اړتيا او ضرورت دی.

ډاکټرلوتر چې درمل پوه **(Pharmacologist)** دی، دی د روژې په هکله وايي: د يوه روژه نيوونکي د معدې رطوبات مې معاينه کړل، زه دې پايلو ته ورسېدم چې د روژه دار په نس کې هيڅ داسې مواد نه وه چې ناروغۍ ورباندې اغيزې وکړي، او يا د مکروبونو ځاله شي او يا ناروغي قبوله کړي، زه په يقين سره دا درته ويلای شم چې روژه د معدې د ټولو ناخوالو يواځېنۍ ښه اوغوره درملنه ده؛ د دې څخه علاوه روژه د ټول بدن د روغتيا ضمانت کوي.

ډاکټر ايف عزيز د يوې ډلې ډاکټرانو سره پر روژې باندې تجربې وکړې، او هغو ځوانانو چې پوره يوه مياشت يې روژه نيولې وه، دا ور څخه په لاس راغلل:

١ :کله چې دې ځوانانو روژې ونيولې نو د ٢٩ روژو څخه وروسته يې وزن پوره کم شو.

٢ :په لومړيو١٠ ورځو کې يې د وينې شکر **(Blood Sugar)** کم شو، چې په پاته شلو ورځو کې يې ګلوکوز اضافه شوی وو.

٣ **(Serum Bilirubin)**: سروم بيليروبين، د صفراء هغه رڼه مايع برخه ده چې په غلظت او زياتوالي سره يې زېړی پيدا کيږي؛ نو د روژې په برکت سره دا سروم بيليروبين په لومړيو ورځو کې د ٥٦ـ٠ څخه و ٧٧ـ٠ ته لوړ شو او د روژې د مياشتې په اخر کې د 4ـ0 څخه و 1ـ1 ته راکم شو.

۴ :په کلسيوم، فاسفورس، پروټينو، البيومنو او نورو هارمونونو کې هيڅ تبديل نه وو راغلی.

۵ :د يوې مياشتې روژې څخه وروسته د نر توليديدونکي ماده **Male Reproduction Hormones** کې هيڅ تغير او تبديل نه ترسترګو کيدی او پر خپل حالت وه.

ددې پوهنتون پايلو داسې جوته کړه چې روژه پر بدن باندې هيڅ بدې اغيزې نلري او برعکس د انسان پر وزن او غوړ باندې ژورې اغيزې لري، او پاتې دې نه وي چې روژه د **(Chronic Disease)** يعنې د مزمنو او اوږد مهاله ناروغيانو لپاره پوره درملنه ده.

روژه د معدې اسيدونه يا تيزابيات کموي: د روژې بله ګټه دا ده چې اسيدونه کموي او دا هغه اسيدونه دي، چې د معدې د جوش او بدې هاضمې سبب ګرځي. هغه کسان چې تل د معدې نه شکايت کوي او انتي اسيد درمل خوري، په دې بايد پوه شي چې روژه د دوی د معدې ټولې ناخوالې له منځه وړي.

## د روژې اجتماعي ګټې

روژه مسلمان ته د نظم، عدالت او مساوات درس ورکوي، سربېره پر دې په مسلمانانو کې د رحمت احساس زياتوي، ځکه چې دوی د نيکۍ لپاره منډې وهي، او د نيکۍ لپاره سيالي کوي، او بدې توګه ټولنه له بديو او فتنو څخه خوندي کيږي.

د روژې یو له مهمو ټولنیزو ګټو څخه د کورنۍ یووالی دی، ځکه چې دا کورنۍ هره ورځ د ناشتې په میز کې راټولوي ترڅو دوی ټول په یوه وخت کې وخوري، برعکس په عادي ورځو کې داسې نه وي.

## روژه او اتحاد:

روژه ټولنه متحدوي! په رمضان کې د جماعت لمونځ، د شپې لمونځ، د قرآن تلاوت، د کورنۍ اړیکې ساتل، نیک عملونه او د مینې او زغم فضا چې د روژې په میاشت کې خپرېږي یوه لوړه روحي انرژي رامنځته کوي چې په فرد او ټولنه کې مثبت انعکاس کوي.

رمضان د بدلون میاشت ده، په دې میاشت کې مسلمان زده کوي چې څنګه له بدلون سره ځان عیار کړي، جنت خپلې دروازې خلاصوي، په داسې حال کې چې د دوزخ دروازې تړل کیږي او بیرته راګرځیدونکي شیطانان په ځنځیرونو تړل کېږي.

د روژې په مبارکه میاشت کې د خلکو تر منځ شخړې او جنجالونه کمیږي، ځکه چې دا د زغم، پېژندګلوۍ او مینې میاشت ده، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ په ټولنه کې د یو بل سره د یووالي غوښتنه کړې ده.

او همدارنګه د زوجینو او اولادونو تر مینځ شخړې او لانجې کمیږي، د روژې په میاشت کې د خپلوۍ اړیکې پیاوړې کېږي، زړونه پاکیږي.

## روژه او ښه اخلاق

روژه په مسلمان کې ښه اخلاق روزي، رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

**فإن امرؤ قاتله أو شاتمه، فليقل إني صائم إني صائم**". [صحيح مسلم]

ژباړه: که څوک ورته سپکاوی وکړي او یا ورسره جنګ وکړي نو دی ورته ووایي: زه روژه یم، زه روژه یم.

نو مسلمان له غصې او اضطراب څخه ځان لرې کوي، له احمقانو او متکبرانو څخه ځان ساتي او په خبرو کې له فحشاء څخه ځان ساتي.

د روژې یوه له مهمو ټولنیزو، اخلاقي ګټو څخه د روژې په مبارکه میاشت کې د جرمونو کموالی دی، روژه زموږ اخلاق او چلند ته ښکلا وربخښي او زموږ شخصیت ته وده ورکوي، فزیکي او لفظي تاوتریخوالی کموي او د ځان د کنټرول وړتیا زیاتوي.

د البیان ورځپاڼې د راپور له مخې، په دوبۍ کې ارواپوه محمد السویدي وایي: په روژه کې د بدو عادتونو په پرېښودلو سره د ځان ساتل څرګندیږي، همدا ډول موږ باید هر یو هڅه وکړو چې د بدو عادتونو په پرېښودلو سره د روژې له ممنوعاتو څخه ځان وساتو.

# د روژې خوړونکی او عذابونه يې

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَفْطَرَ يَوْمًا فِي رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ مَرَضٍ وَلَا رُخْصَةٍ لَمْ يَقْضِ عَنْهُ صِيَامُ الدَّهْرِ كُلِّهِ وَإِنْ صَامَهُ. [رواه الترمذي، ومسند احمد بن حنبل. وشعب الايمان للبيهقي. وغيرهم مثل ذالك عن عبدالله بن مسعود].

ژباړه : حضرت ابوهريرة ﷺ وويل : رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چې د رمضان د مياشتې يوه ورځ روژه پرته له کومې ناروغۍ او پرته له کوم شرعي عذره وخوري، د هغې د (اجر خاليګاه) به د ټول ژوند روژه ډکه نکړي که څه هم ټول عمر (نفلي) روژې اداء کړي.

رمضان هغه مياشت ده چې څوک د دې قدر او درناوی وکړي که مخکې له ګناهونو ډک وي له هغو به پاک شي ، چې څوک تر دې دمخه د خدای په دربارکې قدر نه لري قدر به پيداکړي ، چې مخکې د دوزخ مستحق وي جنت به پيداکړي ، چې مخکې يې د ثواب زېرمه تشه وي هغه به ډکه کړي ، لنډه دا چې د رمضان مياشت سراسر برکت ، عبادت ، مرحمت ، او خدای ته د نژدېکت مياشت ده.

څوک چې ددې مياشتې درناوئ نه کوي د هغو اړوند پيغمبر ﷺ داسې فرمايلي دي:

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيَّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ: «بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ إِذْ أَتَانِي رَجُلَانِ فَأَخَذَا بِضَبْعَيَّ فَأَتَيَا بِي جَبَلًا وَعْرًا فَقَالَا لِي: اصْعَدْ فَقُلْتُ: إِنِّي لَا أُطِيقُهُ فَقَالَا: إِنَّا سَنُسَهِّلُهُ لَكَ فَصَعِدْتُ حَتَّى إِذَا كُنْتُ فِي سَوَاءِ الْجَبَلِ إِذَا أَنَا بِأَصْوَاتٍ شَدِيدَةٍ فَقُلْتُ: مَا هَذِهِ الْأَصْوَاتُ قَالُوا: هَذَا عُوَاءُ أَهْلِ النَّارِ، ثُمَّ انْطُلِقَ بِي فَإِذَا أَنَا بِقَوْمٍ مُعَلَّقِينَ بِعَرَاقِيبِهِمْ مُشَقَّقَةٌ أَشْدَاقُهُمْ تَسِيلُ أَشْدَاقُهُمْ دَمًا قَالَ قُلْتُ: مَنْ هَؤُلَاءِ قَالَ: هَؤُلَاءِ الَّذِينَ يُفْطِرُونَ قَبْلَ تَحِلَّةِ صَوْمِهِمْ».[رواه السنن الكبرى للبيهقي، وابن خذيمة وابن حبان في صحيحيهما. ورواه ايضا الحاكم في مستدركه، هذا حديث صحيح على شرط مسلم ولم يخرجاه].

ژباړه : حضرت ابوامامه الباهلي ﷺ وويل : له رسول الله ﷺ څخه مې واورېدل چې هغه وفرمايل : زه ويده وم ( په خوب کې ) دوه کسان راغلل تر يوه او بل مټ يې تکيه کړم يوه سخت غره ته مخامخ ودرولم راته وې ويل : در وخيژه ، ما ورته وويل : په دې ګړنګ نشم ختلای ؟ دوی راته وويل : موږ در سره مرسته کوو ، ( لنډه دا) چې وختلم کله چې د غره منځنۍ سيمې ته ورسيدو ناڅاپه مې ويرونکي (بوږ نونکي) اوازونه تر غوږو شوو، ما پوښتنه ترې وکړه دا د څه شي اوازونه اورم؟ دوی راته په ځواب کې وويل: دا د دوزخيانو فريادونه دي، يو څه ځای چې وړاندې بوتلم ځينې کسان مې وليدل چې سرچپه پر پلو راځوړند ول ، د خولې (ژامي) يې بې دربغه څيرې وې، وينې ترې بهېدې ، ما پوښتنه ترې وکړه دا څوک دي؟ دوی راته وويل: دا هغه کسان دي چې پرته له کوم جواز څخه يې روژې خوړلې دي.

فايده : دا حديث شريف مختلف روايات لري او په نورو رواياتو کې ډېرې برخې لري ، دا هغه اسرار دي چې الله ﷻ خپل پيغمبر ﷺ ته ښوولي دي، او پيغمبر ﷺ خپل امت له هغو ټولو کړېکچو او کړلېچو څخه خبروي چې صبا دوی ور سره

مخ کيږي ، د پيغمبر ﷺ دا وينا ټولو هغو بدمرغه کسانو ته خبرداری ده، چې د خدای ﷻ له لوري فرض شوي عباداتو ته په سپکه ګوري ، او د خدای ﷻ د دين سپکاوی کوي، د خدای حقوق هغه چا ته بې ارزښته دي چې د زړه له کومي اسلام قبول کړی نه وي ، د فاسدې عقيدې څښتن وي ، د شيطان په جال کې ښکيل وي، د کافرانو غوندې حيواني ژوند کوي، د اخرت ټول کړه وړه ورته درواغ معلوميږي ، يو څو شپې به د ځناور غوندې د خپلې ګېډې او نفسي خواهشاتو د پوره کولو غم اخستی وي،

الذهبي په کتاب الکبائر کې په (٦۴ مخ) ويلي دي:

د مؤمنانو په منځ کې دا ثابته شوې څوک چې د رمضان روژه له ناروغۍ او قصد پرته پريږدي (يعنې پرته له عذره يې وخوري) له زناکار او شرابي څخه هم بدتر دی، بلکې د هغه په اسلام کې شک دی.

روژه خوړونکو ته زموږ مشوره دا ده چې له الله تعالی څخه ووېرېږئ، د هغه له غضب، قهر او د هغه له دردناک عذاب څخه ځان وساتئ.

توبه وکړئ مخکې له دې چې لذتونه تاسې غافلګيره کړي، ځکه چې نن ورځ عمل شته او حساب نشته او سبا حساب شته عمل نشته او پوه شئ چې څوک توبه وکړي الله ﷻ به د هغه توبه قبوله کړي او څوک چې الله ﷻ ته د يو لاس په اندازه نږدې شي الله ﷻ به د يوې فاصلې په اندازه ورته را نږدې شي. هغه ډېر مهربان، ډېر بښونکی، ډېر رحم کوونکی پاک ذات دی.

د الله ﷻ له درباره څخه ټولو مسلمانانو ته د مغفرت غوښتونکي يم.

**ومن الله توفيق**